SHARIAT
شریعت
اوونیزه
په اوونی کي دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان
شپږم کال ۹ مه گڼه پرله پسي (۳۸۹) چهارشنبه د۱۴۲۱هـ ق کال د ذي القعدة الحرام(٦)
د۱۳۷۹هـ ش کال د سلواغي دمیاشتي(۱۲)د۲۰۰۱ میلادي کال د جنوري (۳۱)

در هرات نمایندگي شرکت خصوصي پست سریع افتتاح گردید

هرات – باختر :
نمایندگي شرکت خصوصي پست سریع باختر دیروز طي محفلي در ولایت هرات افتتاح گردید.
در محفلي که بهمین مناسبت به اشتراك مسئولین امارتي قنسل هاي سفارتخانه هاي جمهوري اسلامي پاکستان و ایران در هوتل قمر تدویر یافته بود محترم ملا خیر الله خیر خواه رئیس تنظیمه زون شمال غرب و والي هرات ، محترم محمد اسحٰق معاون ریاست مخابرات آنولایت و محترم رئیس شرکت پست سریع باختر بالنوبه در رابطه به ضرورت تاسیس همچو شرکت هاي خصوصي جهت سهولت به مردم کشور صحبت نموده ایجاد نماینده گي شرکت خصوصي پست سریع باختر را یك گام ارزنده در جهت خدمات پستي خواند.

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) دېر نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

په کابل کي :

د هیواد خسرو لمیتد فابریکه پرانستل شوه

نوموړی فابریکه به ډول – ډول شربت ، قطره چکان ، مقطري اوبه او انتی سپتیک محلولات تولیدوی

په راتلونکی کی به دغه فابریکه د سیروم ، تابلیت ، کپسول او پوماد جوړولو توان ولری

ددغی فابریکی وروستی پانگه ۲۱۰۰۰۰ امریکایی دالره اټکل شویده

کابل – باختر :
د کابل ښار د بیرک چمن په سیمه کی د هیواد خسرو لمتد د درمل جوړولو فابریکه پرون پرانستل شوه او په فعالیت یې پیل وکړ .
د هیواد خسرو د درمل جوړلو فابریکی د اتیا زرو ډالرو په لومړنی پانگه او د دوه لکو لسو زرو امریکایی ډالرو په وروستی پانگه د پنځه دېرشو تنو مسلکی او خدماتی کارکوونکو په لرلو سره د انگلستان ، چین او پاکستان په هیوادونو کی له ډول ډول جوړوشویو ماشین الاتو ځخه په استفادي سره د کابل ښار د بیرک چمن په سیمه کی په فعالیت پیل کړیدی.
دغی فابریکی چی د عامی روغتیا له وزارت ٤ مخ

د محبسونو چاروا کوته د امیر المومنین لارښوونه

د ټولو سیاسی او جنایی محبسونو مسئولینو ته د عالیقدر امیر المومنین لارښوونه
د ټولو سیاسی او جنایی محبسونو مسئولینو ته!
اسلام علیکم و رحمت الله و برکاته
بندیان که سیاسی وی که جنایی باید چاته یې د کار او خدمت لپاره ورنه کړی که څه هم بندیان خوشحاله او مزدوری ورکول کیږی اوس که د چا په لاس کی وی هم یې باید محبسونو ته تسلیم کړی . دا ځکه که بندیان خوشحاله وی خو د حبس مطلب نشو حاصل او که خفه وی نو د تاکلی جزا سره سره بیله هدایته بله جزا هم ورکړل شوه .
والسلام
د اسلام خادم امیر المومنین
ملا محمد عمر مجاهد

د اسراء موسسي په فارغانو باندی سندونه وویشل شول

ننگرهار – باختر :
د اسراء موسسی د مدرسو د قرآن عظیم الشان د نهو تنو حافظانو د فضیلت پگړی وتړل شوی او د ننگرهار په ولایت کی د دغی موسسی له بیلا بیلو څانگو ځخه د بوځلویښتو تنو فارغانو د قراءت سندونه د یوی غونډی په ترځ کی وویشل شول.
٤ مخ

ریزش برف زندگي مردم مناطق شمالي چین را مختل نمود

منابع خبري جهان
ریزش شدید برف زندگي مردم مناطق شمالي جمهوري مردم چین را مختل نمود.
طبق همین گزارش در مناطق شمالي چین یك و نیم متر برف باریده است در عین حال در حدود نه صدو بیست هزار نفر با کمبود مواد غذاي در مناطق متذکره ص ٤

په هرات کي : په مهاجرینو دسون مواد وویشل شول

هرات – باختر :
د لسو زرو لکو افغانیو په ارزښت د سون مواد پرون په هغو مهاجرو کورنیو باندی وویشل شول چی د هرات په ولایت کی شپی سبا کوی.
د هرات ولایت د شهیدانو او مهاجرینو د چارو ریاست د ٤ مخ

د وفا خیریه موسسي د لوروزده کړو له وزارت سره د مرستی تیاری وښود

کابل – باختر :
د منظمه وفا للاغاثة الانسانیه موسسی په بیلا بیلو برخو کی د لوړو زده کړو له وزارت سره د مرستی په لاره کی خپل تیاری څرگند کړ .
په هغی کتنه کی چی د لوړو زده کړو وزیر محترم قاری دین محمد حنیف پرون د منظمه وفا للاغاثة الانسانیه موسسی له رئیس محترم عبدالعزیز سره وکړه د لوړو زده کړو محترم وزیر د افغانستان د
٤مخ

د لوړو زده کړو وزارت له خپل طرز العمل سره سم اختصاصی آزموینه اخلی

کابل – باختر :
د لوړو زده کړو وزارت له طرز العمل سره سم د افغانستان د اسلامی امارت د لوړو زده کړو په موسسو کی د طب انجنیری او نورو پوهنځیو کی د شمولیت په مقصد اختصاصی ازموینه د ټاکلی مهال ویش له مخی اخلی.
له هغو افغانی مهاجرینو ځخه چی له پولی ځخه بهر د کالجونو فارغان وی او د اف.اس.سی. سندونه ولری د روان هجری قمری کال د ذوالحجة الحرام د میاشتی په ۱۵ نیټه د شنبی په ورځ چی د ۱۳۷۹ هجری لمریز کال د کب یا د حوت د میاشتی له شلمی نیټی او ٤ مخ

دیکتاتور سابق چیلي به محکمه جنایي آنکشور تحویل داده شد

منابع خبري جهان
اگوستو پنوشه دیکتاتور سابق چیلي که به ارتکاب جنایت در جریان زمامداري خود متهم است به محکمه تحویل داده شد . یك قاضي محاکمه چیلي اظهار داشت
ص ٤

د ننگرهار د امنیتی موظفینو لخوا دوه تنه غله ونیول شول

ننگرهار – باختر :
د ننگرهار ولایت د امنیه قوماندانی د مرظفینو لخوا په دی وروستیو وختو کی یوه ډله جوارگر او دوه تنه غله د دغه ولایت په مربوطاتو کی ونیول شول.
د ننگرهار د امنیه ٤ مخ

په هند کی : د زلزلی د قربانیانو شمیر ښایی سلو زرو تنو ته ورسیږی

بی بی سی – باختر
د هند د دولت مقاماتو ویل چی په دغه هیواد کی د وروستی زلزلی له امله د مړو د زیان شمیر ښایی تر سلو زرو تنو پوری ورسیږی.
دا پداسی حال کی دی چی د هند دولت یو ځل بیا د گجرات ایالت د بوج ښار له خلکو سره د نړیوالو بیړنیو مرستو غوښتنه کړیده چی د وروستی زلزلی له امله سخت زیانمن شویدی.
٤ مخ

داوبو او برېښنا وزارت معین محترم مولوي عبدالهادي :

دبرېښنا هغه تولیدي فابریکي چي په اوبو فعالیت کوي ۹۸٪ فعالي شوي دي

په هغو ولایتونو کي چي داوبو برېښنا نشته هلته مو دېزل جنراتورونه درولي دي

شریعت :
قدرمنو لوستونکو! ستاسي پام دهغي مرکي لوستلو ته راگرځوو چي زمونږ خبریال داوبو او برېښنا وزارت له محترم معین سره ددغه وزارت د اړوندو چارو او فعالیتونو په باب ترسره کړیده . هیله ده چي دپیام لرلي ور مو وگرځي .
په پیل کي داوبو او برېښنا وزارت محترم معین داسي وویل :
موږ د روان کال په اوږدو کي هغه کارونه چي دپلان له مخي موږ برېښنا او اوبو لگولو په برخو کي پیل کړي و سر ته رسولي او ځیني کارونه اوس هم پرمخ روان دي دبېلگي په توگه د تولیدي فابریکو توربینونه په منظم ډول ترمیم شوي ، دلوړ ولتاژ په ستنو او مزیو کي پوره اصلاحات منځ ته راغلي او په ښاري شبکو کي پراختیایي پروگرام په بېړه پرمخ روان دي. د تېرو ۹ میاشتو په اوږدو کي په لسگونو ترانسفارمرونه فعال شوي او په نږدې ورځو کي به یو شمیر نور هم په ځینو سیمو کي نصب شي . دغه راز د ننگرهار ، کونړ ، کندها ، غوري ، چک ، کجکي ، غوربند او گرشک په فابریکو او شبکو کي د مرکز په څېر ترمیمات سرته ٤ مخ

درفاریاب تاجران ملي در قسمت تورید مواد اولیه ابراز آمادگي نمودند

فاریاب – باختر :
تاجران ملي ولایت فاریاب طي جلسه مشورتي در قسمت تورید مواد اولیه به کشور ابراز آماده گي نمودند .
این جلسه که تحت ریاست محترم ملا عبدالقیوم مستوفي ولایت فاریاب و عده از تجار ملي در صالون ریاست اطاقهاي تجارت آن ولایت دایر گردیده بود نخست محترم مستوفي ولایت فاریاب ضمن توضیح اضرار دنیوي و ص ٤

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

بندیزونه لگول د امریکی د غرور او دیکتاتوری نښه ده

نړیوالو خپروندویو سرچینو خبر ورکړی چی د امریکی په نوی حکومت کی د بهرنیو چارو وزیر «کولن پاول» د نړی په بیلا بیلو هیوادونو اقتصادی بندیزونه لگول غندلی او زیاته کړی یی ده چی دا کار د امریکی د ځان غوښتنی او دیکتاتوری څرگندویی کوی چی ښایی د امریکی نوی حکومت په دی اړه له سره غور وکړی. باید یادونه وکړو چی د نړی له دوو سوو هیوادونو تقریباً په اویا و یبی
۲ مخ

وزارت دفاع اندونیزیا خواهان استیلا بر حکومت آنکشور شد

رادیو صداي آلمان – باختر :
وزارت دفاع اندونیزیا هوشدار داد که به دلیل اعتراضاتي که علیه عبدالرحمن وحید رئیس جمهور آنکشور راه اندازي میشود ص ٤

هیأت اعزامي اتحادیه اروپا با رهبر اپوزیسیون برما ملاقات نمود

هیأت اعزامي اتحادیه اروپا دیروز باهنگ سن سوچي رهبر اپوزسیون برما در رنگون پایتخت آنکشور ملاقات کرد.
هیأت اعزامي اتحادیه اروپا در نظر دارد تا طي اقامت چهار روزه خود در برما دورنماي مذاکرات و دیالوگ را میان دولت و اپوزیسیون برما ارزیابي نماید.
رهبري جامعه ملي براي دموکراسي را هنگ سن سوچي به عهده دارد که در جمله اپوزیسیون دولت برما بحساب میرود.

در بروکسل سه ملیارد یورو جهت جبران خسارات مرض گاوي اختصاص داده شد

منابع خبري جهان
وزراي زراعت پانزده کشور عضو اتحادیه اروپا طي جلسه یي در بروکسل مبلغ سه ملیارد یورو را براي جبران خسارات ناشي از مرض جنون گاوي اختصاص دادند. قرار گزارشهاي واصله مذاکرات وزراي مذکوربراي ص ٤

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱توزیع و شکایات :٦٢٨٥٩
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

اقتصادی او تجارتی بندیزونه لګیدلی او دغه سیاست د امریکی د تجارتی شرکتونو له خوا هم د اعتراض لاندی راغلی او ویلی یی دی چی له دی پلوه په کلنی ډول امریکی ته نیږدی شل ملیارده ډالره تاوان رسیږی .

د پورتنیو څرګندونو اصلی ماهیت ته که ځیر شو نو بی له شکه ټولی سمی او پر واقعیت ولاړی دی او همدغه نظریه د ټولو عامه نړیوالو نظریه هم ده چی له بده مرغه لویدیځ حکومتونه یی په ډیر معکوس ډول خپروی او تینګار کوی چی اقتصادی بندیزونه په اصطلاح دیاغی او سرکښو رژیمونو د تابع کولو خوراښه وسیله ده . دوی په دی هم کلک ولاړ دی چی دا بندیزونه پرته له دی چی په عامو خلکو څه فشار راوړی یوازی او یوازی په حاکمه ډله اغیزی کوی خو په عامه رأی کی دا ادعا څه ځای نه لری او ظاهراً یی د نړی ستر اوځواکمن شخصیتونه هم سم او په ځای کار نه بولی د مثال په توګه د ملګرو ملتو سر منشی کوفی انان په افغانستان بندیزونه لګول ناسم و بلل دفرانسی یوه استاځی څرګنده کړه چی په افغانستان د بندیزونو پلوی نه یو او دادی اوس د امریکی نوی خارجه وزیر هم ورته څرګندونی کوی، چی مونږ هم په خپل وار دغه دریځ د واقعیت لورته راګرځیدل او یو مثبت ګام بولو، خو په هر صورت که د لویدیځ اخلاق ، عادت او سیاست ته وکتل شی نو دا تریخ حقیقت هم له ورایه څرګندیږی چی دوی همیشه په یوه سترګه خاندی او په بله ژاړی او دا دی له دی ټولو خوږو او نرمو څرګندونو سره سره له کلونو کلونو راهیسی د نړی د ډیرو نیستمنو هیوادو اقتصادی محاصری دوام لری او د ولسونو د حقوقو، دیموکراسی او بشری خواخوږی له نارو سره سره د فلسطینی مسلمان ولس په وژلو، شړلو او ځورولو کی د یهودی غاصب رژیم بشپړ ملاتړ کیږی خو په هر حال ګورو به چی د امریکی نوی اداره تر کومه بریده د نړیوالو په وړاندی روغ نیتی څرګندوی او لکه د خپل ولس نورو هیوادو ته هم د آزادی او دیموکراسی په بنا لومړنی حقوق ورکوی که ریښتیا هم د امریکی نوی مشران په دی هکله خپل دریځونه له سره وڅیړی د نړی ډیری ستونزی به حل او د امریکی پر خلاف به د نړیوالو دغه ذهنیت چی امریکا په یوازی ځان د ګردی نړی ټیکه داره او د بندیزونو سیاست یی د غرور او دیکتاتوری لویه نښه بولی، له منځه ولاړ شی چی داوړ چلند په خپله د امریکی د خلکو په ګټه او د هغوی په مقابل کی د کینی او حسد د کمیدلو باعث ګرځیدلای شی.

په نړی کی ستر ستر فاتحین تیر شوی دی چی دهغوی هدف یوازی دسیمو قبضه کول او په ټوله دنیا ګیده اچول ؤ ، چی له هغو څخه څلور تنه په نړی کی زیات شهرت لری :

۱ - مقدونی سکندر اعظم
۲ - امیر تیمور
۳ - چنګیز خان
٤ - ناپلیون بونا پارت .

خو د هغوی دافتوحات یوازی او یوازی په جغرافیوی ښستې بنا وو ، او دهغی ترشا نور څه نه بلکی دخپل شهرت جذبه او پخپله ځواکمنی مست ؤ . غوښتل یی په ټوله نړی کی خپله امپراتوری جوړه کړی . داسلام تر راتلو دمخه هم ځینی جګړی دمذهب لپاره شوی وی مثلاً دقیصر او کسری په منځ کی جګړی هم اخلاق پیسال شوی او نوموړي جګړي د اخلاقي ښستې په بنا نه وی پیل شوی علاوه له دی نه فاتح قوم په مازی مفتوحه قوم ته دمذهبی تاوان اړولو کوښښ کاوه نه دخپل مذهب دځواکمن لپاره .

تاریخ په دی شاهد دی چی مسلمانان یوازینی قوم و چی هغوی دلومړی ځل لپاره دجغرافیوی فتوحاتو په عوض دنظریاتی فتوحاتو کوښښ کاوه او هر قوم ته یه یی مخکی ترمخکی داسلام راوړلو دعوت ورکاوه . که یه کوم حکمران اسلام ومانه نه یه یی له هغه سره جګړه کوله او نه به یی دهغه حکمرانی له منځه وړله . بلکی هغه ته یی هغه ټول حقوق ورکول لکه څرنګه یه چی نو مسلمان تری برخمن ؤ . او دا یی هم په ډاګه کړه چی سیاست له دین نه جلا نه دی . نه داچی اسلامی دعوت یوازی درسول الله صلی الله علیه وسلم ، صحابهٔ کرامو «رض» او امیر المؤمنین مسئولیت دی . بلکی دا دهر مسلمان فرد مسئولیت دی که هغه امیر وی یا فقیر ، چی خلک اسلام ته را وبولی دهغوی عزت او عفت وساتی او دخپلو حسنه اخلاقو په وسیـ ... کو مینه او جذبه په زړه کی وریداکړی .

چی ددی کسانو په سرکی حضرت عمر بن عبد العزیز «رض» دی . دهغه دپلار نوم عبدالعزیز دمور نوم یی ام عاصم و . دحضرت عمر «رض» لمسی وه ، حضرت عمر بن عبدالعزیز «رض» په ٦٥ هـ کال په حلوان کی پیداشوی دی . له صالح بن کستان اتالیقی نه یی په مدینه کی زده کړه کړی وه په کوچنیوالی کی یی قرآنکریم حفظ کړی ؤ . او ددی په څنګ څنګ کی یی ورسره په شعر اوشاعری کی هم خاص شهرت درلود . دیو حدیث په روایت چی له عبدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود نه روایت دی . دعبدالملک بن مروان دخلافت په وخت کی دخناصره والی مقرر کړای شو . او په ۸۹ هجری کال دولید بن عبدالملک بن مروان لخوا په مدینه کی والی وټاکل شو ، تر ۹۳ کال پوری هلته والی ؤ اوبیا تر هغی

دحضرت عمر بن عبدالعزیز«رض» دژوندحالاتو ته یوه کتنه

عبدالله

وروسته دسلیمان بن عبدالملک لخوا دمسلمانانو خلیفه وټاکل شو .

یو ځل امیرالمؤمنین سلیمان بن عبد الملک سره دهغه زوی ایوب چی دهغه ولی عهد هم ؤ ناست ؤ ، چی عمر بن عبدالعزیز «رض» راغی یو ه سری دځینوخلفاو دکونډو دوراثت غوښتنه کوله . سلیمان بن عبدالملک وویل : ښځی دچا شخصی جایداد نشی کیدلی کله چی هغه داخبره واوریده نو په تعجب سره یی وویل : سبحان الله دا په قرآنکریم کی چیرته دی ؟سلیمان خپل غلام راوغوښت او ورته یی وویل : عبدالملک چی دجایداد په اړوند څه لیکلی هغه راوړه . هغه کنایتاً ویل : تاسی قرآنکریم غواړی ایوب چی داپیغور واورید نو یی ویل که تاسی داسی غوښتنی دامیرالمؤمنین په وړاندی وکړی نوهغه به په یو دوار ستاسی سر له تنی نه غوڅ کړی اولری به یی وغورځوي ، په دی وخت کی حضرت عمر بن عبدالعزیز وویل : که ته خلیفه شوی نو ته به خپل رعیت ته له دی نه هم زیات تاوان ورواوړوی . کله چی سلیمان بن عبدالملک داخبری واوریدی نو ایوب یی وراته چی ولی دی له عمر سره داسی خبری وکړی هغه وویل : مایی ظرفانه خبری وکړی . دمسلمانانو خلیفه سلیمان بن عبدالملک په یوه دسته کی حسه ودروله چی ناځاپه په اسمان کی غرهار پیدا شوا وریښتا هم ورسره ځلیده . خلیفه وارخطا شو یو لک درهمه یی عمر بن عبدالعزیز «رض» ته دخیرات لپاره ورکړل چی ددی خیرات په ورکولو خدای «ج» له مونږ څخه دا آفت لری کړی . عمر بن عبدالعزیز «رض» عرض وکړ چی له دی نه یو بل غوره کار هم شته خلیفه وویل هغه څه دی ؟ هغه بیا عرض وکړ دځینوخلکو جایداد له تاسی سره دی هغه خلک دلته راځی خو تر اوسه ډلسه نه دی رسیدلی هغوی دخپل جایداد غوښتونکی دی همدا و چی سلیمان دهغوی مال او جایداد بیرته هغوی ته وسپاره .

امیرالمؤمنین سلیمان بن عبدالملک دواپی په مقام کی چی هغه وخت داځای دیوځ لوی مرکز هم ؤ په ۹۹ هجری کال کی ناروغ شو او له خپل ژوند نه نور نا امیده ښکاریده دخلیفه دټاکنی لپاره یی رجاء بن حیات دمشوری لپاره را وغوښت او پوښتنه یی تری وکړه . د داؤد بن سلیمان په هکله ستاسو څه رایه ده ؟ داؤد په دی وخت کی په قسطنطنیه کی ؤ رجا وویل تاسی ته څه معلومه ده چی هغه ژوندی دی یا مړ .

سلیمان بن عبدالملک وویل : دعمر بن عبدالعزیز «رض» په اړوند ستاسو رایه څه ده . رجا بن حیات وویل : هغه ستر او غوره مسلمان دی .

هغه ته د خلافت دنده سپارل غوره کار دی هغه صالح او نیک شخص خپل جانشین تعیین کړه لکه چی هغه هم همداسی وکړل .

حضرت عمر بن عبدالعزیز «رض» دخلافت دندی ته تر رسیدلو وروسته جومات ته ولاړ په ممبر ودرید یوه خطبه یی ولوستله چی لنډیز یی په لاندی ډول دی .

ای خلکو ! تاسو پرما باندی دخلافت ستر بار اچولی دی . یی له دی چی له مانه پوښتنه وشی . اویابی زه غوښتونکی اوسم . اویاله عامو مسلمانانو سره په دی هکله مشوره وکړم . زما دبیعت کومه غاړه کی اوحلقه چی ستاسو په غاړه کی پرته ده زه هغه ستاسو له غاړی لری کول غواړم تاسی پخپله خوښه دځان لپاره یو خلیفه وټاکی کله چی خلکو دا خطبه واوریده نو په لوړ آواز یی چغی کړی مونږ ستا په خلافت راضی او خوښ یو . ته زمونږ لخوا خلیفه ټاکل شوی یی . له دی انتخاب وروسته یی خلکو ته په وینا پیل وکړ .

ای خلکو ! هر هغه څوک چی د الله «ج» طاعت کوی د هغه طاعت ... او هغه څوک چی د هغه له اطاعت نه غاړه غړوی هغې اطاعت هم جائز نه دی . تر کومه چی زه دالله تعالی اطاعت کوم زما اطاعت پر تاسی فرض دی .

امیرالمؤمنین له انتخابیدو وروسته له شاهی سپرلی نه انکار وکړ . هغه پرتو کول یی له منځه یوړل دکوم په وسیله چی دشاهانو برتری یی په نورو مسلمانانو ښوولی وه ، او داسی یی وویل : زه هم د نورو مسلمانانو په شان یو مسلمان یم . خالد بن زیاد یو جلاد ؤ چی دامیرالمؤمنین په مخکی به توره په لاس ولاړ او خلک به یی وسرول . کومه حسه چی دخلیفه دکیښت ستلو لپاره تعیین شوی وه هغه ځای له کیناستلو یی په ډاګه انکار وکړ . او وی ویل هغه راټوله کړی او په بیت المال کی یی واچوی هغه ځای له کیناستلو یی یوزی نه ترجیح ورکړه او هغه ځای فرش یی هم بیت المال ته وسپاره . دمرحوم خلیفه داستعمال لپاره چی کوم مال او متاع دبنو امیه و دقانون مطابق دهغه دژوند یوه برخه تشکیل کړی وه ، هغه یی ټول په بیت المال کی جمع کړل .

دامیرالمؤمنین له انتخاب وروسته یی ټولی هغه میراثی شتمنی او جایداد ونه خپلو خاوندانو ته وسپارل چی مخکی له بنیانو او دبسامه له خلکونه ولکه کړی ؤ . حتی تردی پوری چی ولید هغه ته دګوتی یو غمی ورکړی وهغه یی هم بیرته بیت المال ته حواله کړ .

کوم غوره قیمتی جواهر چی دهغه تیر فاطمی ته سلیمان بن عبدالملک بخشش ورکړی ؤ حضرت عمر بن عبدالعزیز «رض» خپلی بی بی «فاطمی» ته وویل تاسو ته ددوو کارونو اختیار دی هغه داچی : یا جواهر غوره وګڼه او یا ما ته یه جواهرو ترجیح ورکړه . هغی په ځواب کی وویل زه له هرڅه نه تاسو ته ترجیح ورکوم له دی خبری وروسته یی هغه جواهر هم دبیت المال مال وګاڼه . کله چی بیا له هغه نه وروسته یزید خلیفه شو غوښتل یی چی فاطمی ته خپل جواهر بیرته ورکړی خو هغی یی له اخستلو انکار وکړ .

علاوه له دی نه هغه ټولی شتمنی او جایدادونه چی بنوامیه ؤ دخپلی سلطی او واکمنی پر وخت له خلکو نه ولکه کړی وو . هغه یی خپلو څښتنانو ته وسپارل .

کله چی دولکه شوو مالونو بیرته ورکول پیل شول نو په حمص کی یو بوډا ذمی ولاړ و او وی ویل : ای امیر المؤمنینه عباس بن عبدالملک زما په ځمکه غیر حق قبضه کړی ده .

عباس هم هلته موجود و . عمربن عبدالعزیز «رض» عباس ته مخ ور واړاوه او پیا یی ورته وویل : تاسو ددمی دځمکی په هکله څه ځواب ورکوی ؟ هغه وویل هغه ځمکه چی ولید ماته راکړی زه دهغی سند په لاس لرم . حضرت عمربن عبدالعزیز له ذمی نه پوښتنه وکړه هغه په ځواب کی وویل : زه ورسره په کتاب الله فیصله کول غواړم عمربن عبدالعزیز ددی ځواب په اوریدو سره عباس ته وویل دولید کتاب څه دالله په کتاب مقدم دی ځمکه یی ورته پریږده .

دټولو خلکو دجایداد له واپسی وروسته حضرت عمر بن عبدالعزیز غیر موزون حکمرانان خپلو وظیفو څخه ګوښه کړل . دټولو دمخه یی یزید بن مهلب چی هغه وخت دخراسان والی ؤ دخلافت مرکز ته راوغوښت دهغه پرځای زړی هلته سرپرست پریښود او پخپله دبصری په خوا روان شو .

هغه له یزید بن مهلب نه پوښتنه وکړه ماته دسلیمان بن عبدالملک په نوم ستاسو یو لیک په لاس راغلی چی په هغه کی تاسو لیکلی دی چی له مونږ سره دوه کروړه روپی شته نو اوس ته ووایه چی هغه څه شوی ؟ لومړی یی انکار وکړ او بیا یی وویل : ماته اجازه راکړه ! چی زه هغه له خلکو نه راواخلم او بیا یی تاسو ته وسپارم . هغه ورته وویل یوځل دی وتښتولی او اوس یی بیا له خلکو نه بیرته غواړی . له خدایه ووېریږه خپل امانتونه مونږ ته وسپاره دا دخلکو حق دی . زه له دی تیریدونکی نه بلکی غوښتونکی یم هغه یی زندان ته واستوه دهغه په عوض یی جراح بن عبدالحکمی دخراسان والی مقرر کړ . دخپلی کورنی څخه یی چا ته مسئولیت نه سپاره او یا به چی چا دکومی وظیفی غوښتنه کوله هغوی ته یی هم هغه وظیفه نه سپارله غلو او تیری کوونکو ته به یی هم په دولتی چارو کی وظیفه نه ورکوله . یوځل جراح بن الحکمی عماره ته کومه وظیفه وسپارله هغه ته یی ولیکل : زمونږ نه عماره ته ضرورت دي او نه د عماره په شان مار ګیدو ته . نه هغو کسانو ته چی دهغوی لاسونه دخلکو په وینو رنګ شوی دی نو دلیک په رسیدو سره عماره له خپلی عهدی نه کناره کړه .

یوه ورځ دری کسان هیات دهغه په خدمت کی حاضر شول ، چی په هغوی کی دوه عربان او یو غلام شامل ؤ ، دواړو عربانو حضرت عمربن عبدالعزیز «رض» سره خبری کولی غلام غلی ناست ؤ هغه له غلام نه پوښتنه وکړه ته هم په دی وفد کی شامل یی څنګه خبری نکوی ؟ هغه په ډیره سره سینه سره هغه ته عرض وکړ .

ای دمسلمانانو خلیفه ! مونږ شل زره غلامانو په جهاد کی برخه اخیستی وه خو یوه ته هم چاتر اوسه وظیفه نه ده ورکړی .

وظیفه خولا څه کړی چی جزیه لاړانه سرباری اخلی زمونږ امیر ستر ظالم او متعصب دی . ممبر ته یوړته شوا ... ویل : زه دلته ستاسو دمهربه یی ، خوا خوری په هکله راغلی وم خو اوس غصبی شوم . حضرت عمربن عبدالعزیز «رض» زیات خوشاله شو او بیا یی وویل چی په وفد کی هم داسی کسان شته چی دخپل زړه راز په ډاګه کولی شی نو نوری یی جراح ته ولیکل : هرهغه څوک چی دلمانځه پر وخت خپل مخ قبلی خواته ګرځوی او لمونځ اداکوی نو دهغوی جزیه معاف کړه ددی حکم په اعلانولو سره زیاتره خلکو اسلام راوړ او مسلمانان شول . ځینی خلکو بیا جراح ته وویل : دی خلکو یوازی او یوازی دجزیی دبخښنی په وجه ایمان راوړی داخلک سخت کسره تر څو و ازمایل شی .

جراح حضرت عمر بن عبد العزیز «رض» ته داموضوع ولیکله : او هغه ورته په ځواب کی وویل : محمدصلی الله علیه وسلم الله پاک یو داعی جوړ کړی او لیږلی ؤ نه ستوونکی .

جراح چی کله دخراسان والی تعیین کړای شو نو راغی هغه حضرت عمربن عبدالعزیز ته ولیکل :

دلته ځینی کسان دی چی هغوی فتنه او فساد خپرول غواړی او په دی توګه خلک دحق له لاری اړاروی او کنځلی کوی هغه ورته وویل په کنځلو سره څوک نه شی وژلی که ستاسو زړه غوښته تاسی هم ورته کنځلی وکړی او که نه خوشی

ص ۳

متصدي صفحه : استاد آرین خیبر

اخـــــــبار سپورتي

دتکواندو دفدراسیون غونډه جوړه شوه

دتکواندو دفدراسیون غونډه څو ورځې مخکې دنو موري فدراسیون دټولو استادانو او ترینرانو په ګډون دغازي ستدیوم په انګړ کې جوړه شوه .

په دي غونډه کې دکمکیو ځوانانو- ځوانانو- او دملي ټیمونو دسیالیو په هکله چې دراتلونکې کال په جریان کې به ترسره شي خبري وشوي اوهمدا راز وټیل شوه هغه کلبونه چې داسلامی امارت داولمپک دملی کمیټی له اوامرو څخه سرغړونه کوي او دتکواندو له فدراسیون سره همکاري نه کوي باید وتړل شي .

دکاراتی دفدراسیون غونډه جوړه شوه

دکاراتی دفدراسیون غونډه څو ورځی مخکې دنوموړی فدراسیون داستادانو او ترینرانو په ګډون جوړه شوه .

په دي جلسه کې محترم استاد « محبوب الله سروری » دراتبونه دبرینت دافغانستان دکاراتی دفدراسیون درئیس په توګه وټاکل شو .

همدارنګه نوري ټاکنې په لاندي ډول دی :

محترم استاد عبدالغفور عاشق دفني مرستیال په توګه ، محترم استاداحمد فرزاد دسرحکم په توګه او محترم استاد آرین خیبر دمسابقاتو دآمر په توګه .

دالمپیک دملی کیټی دامر با لمعروف اونهی عن المنکر کمسیون جوړ شو

داولمپیک دملی کمیټی دامر بالمعروف اونهی عن المنکر کمسیون داولمپیک دملی کمیټی دفنی او مسلکی چارو درئیس محترم مولوی عبدالرحمن حنیفی ترمشري لاندي جوړشو .

دغه کمسیون به دورزشی کلبونو ، اوموسسانو دیني او عقیدوي اوهمدارنګه دمعروف اقامه کولو اوله منکراتو څخه دمنع کولو وظیفی سرته رسوي .

دغیږی نیولو دوو تنو استادانو دماستر سپورتی سندونه ترلاسه کړل

کابل - باختر

غیږی نیولو دبرخې ددوو تنو استادانو دماستر سپورتی سندونه ورمه ورځ دبدنی روزنی اوسپورت په لوی ریاست کې دیوی غونډی په ترځ کی وویشل شول ، په دی غونډه کی لومړی دبدنی روزنی اوسپورت لوی رئیس محترم مولوی قلم الدین مهمند داسلام دمبین دین له پلوه دورزش داهمیت او ارزښت په باره کی خبری وکړی او دورزش دپرمختیا په کار کی یی لوبغاړو او په تیره بیا دبیلابیلو ورزشی څانګو داستادانو رول جوت کړ .

وروستی دمحترم پهلوان عبد الخلیل اومحترم استاد جمال الدین دماستر سپورتی سندونه چی دماستر سپورتی نورم اومعیارپی بشپړ کړی و دبدنی روزنی اوسپورت دمحترم لوی رئیس له خوا وویشل شول .

تمام پیروزیها وقهرمانیهای خویش را ناشی از زحمات استاد بزرگوارم میدانم

بنارس

شریعت : علاقمندان محترم ورزش !

خبرنگار ما اینبار ازکلپ پهلوانی جوانان میهن دیدن نموده ومصاحبه یی را بامحترم « بنارس » یکي ازجمله اعضای ارشد وبرجسته این کلپ انجام داده است که اینك شما را به خوانش آن دعوت مینمائیم .

محترم بنارس تمرینات پهلوانی را تحت نظر « استاد محمد یونس حیران » ترینر کلپ ورزشی پهلوانی جوانان میهن آغاز نموده است ودر مسابقات انتخاباتی تیم ملی کشور در وزن 80 KG حایز مقام اول قهرمانی شده است .

موصوف می افزاید :

تمام پیروزی ها وقهرمانی ها را ناشی از زحمات وتکالیف استاد بزرگوارم محمد یونس حیران درحصه تطبیق پروسه علمی ورزش ، پرورش روحیه اسلامی به اساس همین زحمات وتلاش های پیگیر تعدادی از اعضای کلپ ما توانستند که دروقت بسیار کم عضویت تیم های ملی ، جوانان ونوجوانان را حاصل نمایند .

درتیم نو جوانان تحت سنین ۱٤ - ۱٥ سال :

عزیزالله درکلاس KG 42، فردین درکلاس 53 KG، و پرویز درکلاس 59KG همچنان درتیم جوانان تحت سنین ۱٦ الی ۱۷ سال :

ذبیح الله درکلاس 63KG وحمیدالله درکلاس 76KG وتحت سنین ۱۸ الی ۲۰ سال :

عصمت الله درکلاس 50KG ، محمدقاسم درکلاس 63KG ، حمیدالله درکلاس 69KG ، ومحمد آغا درکلاس 76 KG هکذا درتیم ملی ذبیح الله درکلاس 63KG ، محمد طالب درکلاس 69KG ، حمیدالله درکلاس 76KG وبنده بنارس درکلاس 85KG درسکوی قهرمانی وعضویت تیم ملی نایل گردیدیم .

دراخیر محترم بنارس آرزونمود که دروطن عزیز ما صلح وامنیت هر چه بیشتر تحکیم یابد تا تمام ورزش کاران ما باروحیه عالی منحیث **ستارهای ورزش بسوی مسابقات جهانی وقاره یی راه یابند تابتوانند بیرق پر افتخار افغانستان را برفراز قله های شامخ ورزش به اهتزاز در** آورند .

کاراته کیوکش کای

کیوکش کای یکی از روشهای سیستم کاراته جاپانی میباشد که توسط شخصی بنام ماسو تاتسو اویاما پدید آمده است استاد اویاما که تا آخر زندگی اش باوجود سن زیاد دست ازفعالیت های ورزشی برنداشت ابتدا نوع از سبک کاراته را تحت نظر فاناگوشی گیچین پدر کاراته مدرن فراگرفت ولی بعدها پس ازمهاجرت جداشدن استاد کیوکیشن را کشف کرد .

سیستم کیوکیشن نیز مانند دیگر سیستمهای کاراته تابع اصول یگانه بوده وهمچنین دارای خصوصیات ویژه ومخصوص خودش میباشد .

این روش از نظر کیفیت تکنیکی وشباهت حرکتی تاحدودی نزدیک بروشهای مشت زنی چینی یعنی کمپو میباشد . یک هنر جوی تازه وارد برای شروع باید حالت های ایستادن واستقرار به روی زمین را فرا بگیرد که این حالات درشروع کومک بزرگ بوی در ادامه کار خصوصاً درمرحله اجرای تکنیکها ی پیوسته بامعنای دیگر کاتا میکند . کاتا مجموعه حرکاتی است که درجهت های مختلف باحریفان فرضی کار میشود . ویکی از اصیل ترین پایه ها دربنای هنر های رزمی میباشد . درسبک کیوکیشن کاتا به دوصورت انجام میشود که عبارت انداز :

۱ - اجرای تکنیک به منظور قدرت یابی وسرعت درحرکات .

۲ - اجرای تکنیک به منظور ایجاد تمرکز همراه باتنفس های مخصوص ازمسایل دیگری ویژه در روش کیوکیشن توجه عمیق این روش به انجام مبارزه آزاد یا جی یو کمیته میباشد که درآن دریک آزمایش واقعی برای انجام مهارتهای خود قرار میگیرد . دراین حالت شخص قادر خواهد بود قدرت انعکاس خود را افزایش داده وکنترول مطلوبی روی حرکات خود بدست آورد که این موضوع بستگی بشرایطی ذهنی فرد وسرعت حفظ زمان سنجی برای کارهای دفاعی وحمله یی دارد . دراین نوع مبارزه فرد سعی میکند ازتمام موقعیت ها وفرصتها درجهت به دست آوردن پیروزی نسبت به حریف استفاده کند ودر واقع این احساس را پیدا میکند که نوع حالت واقعی بودن دراین مبارزات نسبت به حریف داشته باشد .

دراین حالت او آزاد است که به نقطه های مجاز با قدرت ضربه بزند وهمچنین دربعضی موارد تاحدودی نسبت به ضربه ها کنترول موثری داشته باشد . درحرکت ضربه ها ودفاع ها اغلب پیرو قانون مسیر مستقیم با بستونی شکل میباشد وکوتاه ترین مسیر جهت ضربه زدن به دفاع کردن انتخاب میشوند . وآن مسیر مستقیم یا کوتاه ترین فاصله بین دونقطهٔ ضربه زننده ودفاع میباشد که غالباً دراین روش به آن توجه بیشتر میشود .

د حضرت عمر بن عبد العزیز «رض»...

بی کری .

بوځل هغه داستراحت کولو لپاره ځګ شو دیو سړی په لاس کی دکاغذونو ګیډی وه دغه ګیډی یی دهغه په لور ګوزار کړه هغه چی بیرته وکتل کاغذی ګیډی بی پرمخ ولګیده اوله انګو نه یی وینی وبهیدلی خوبیایی هم په دیر چوپوالی سره دهغه درخواستی ولوستله اوڅه یی چی غوښتل هغه یی ورکړل بوځل بیا یو هلک دهغه زوی په زوره وواهه خلکو هغه په منډه منډه دخپلی مور فاطمی خواته ورساوه حضرت عمربن عبدالعزیز «رض »داشور اوځوږ واوریده دخپلی کوټی څخه بیرون را ووت په دی وخت کی یوه ښځه راغله اووی ویل : داهلک زمازوی دی اویتیم دی عمربن عبد العزیز « رض »ددی په عوض چی دخپل زوی دوهلو انتقام واخلی اویا هغه هلک ته دخپلی غلطی سزا ورکړی نو دهلک له هورځه پوښتنه کوی چی ستاسی زوی کومه وظیفه لری اوکنه ؟ هغی ورته په ځواب کی وویل : نه زوی می هیڅ وظیفه نلری ، هغه وویل ددی هلک نوم دوظیفه خورو هلکانو په فهرست کی ولیکی دهغه بی بی (فاطمی)وویل : که چیری داهلک دوهم ځل بیا زمازوی ووهی نو خدای «ج »دی له ده سره همداسی سلوک وکړی .

یو وار عمربن عبدالعزیز دلبنان دشاتو صفت وکړ په دی وخت کی هلته په لبنان کی ابن معدی کرب والی ؤ دهغه ښځی خپل څښتن ته دعمربن عبدالعزیز « رض »پیغام ورساوه معدی هلته زیات شات واخیستل اوهغه یی عمربن عبدالعزیز ته ولیږل عمربن عبدالعزیز دهغه ښځی ته وویل : چی تاسی داشات داابن معدی کرب په وسیله راغوښتی دی بیا یی امر وکړ چی بیرته یی خرڅ کړی پیسی یی بیت المال ته وسپاری . معدی کرب ته یی یو لیک واستوه او په هغه کی یی لیکلی وو ، که چیری تاسی د دوهم ځل لپاره دا عمل تکرار کړی نو بیا به می ستاسو مخ هم نه نه راځی .

د سنګینی په وجه یی د شور اوغوغا نه بد راتلل یو ځل یو سړی ورسره په لوړ اواز خبری کول پیل کړی ، یو بل څوک ولاړ و هغه وویل ددی اواز مخه یواځی توره او دره نیولی شی او بس . خو هغه کار هم ستاسی له اجازی بغیر کیدونکی نه دی د هغه په ځواب کی حضرت عمر بن عبدالعزیز « رض » ولیکل ته له هغه نه هم زیات د فساد او فتنی خپرول غواړی د هیڅ مسلمان او ذمی وهل بی له کوم جرم نه روانه دی .

حضرت عمر بن عبدالعزیز « رض » له تکبر او خود بینی نه دومره نفرت کاوه چی کله به یی خطبه لوستله او یا به یی کوم څیز لیکلو نو که به خطبه کی ورته د تکبر خبره وریاده شوه نو چوپ به کیښناست او که به په لیکلو کی ورته د غرور خبره وریاده شوه نو لیک به یی څیر اوه او بیا به یی ویل خدایه «ج » زما نفس ته له بدیو نجات ورکړی د فخر له ویری به یی زیاتی خبری هم نکولی .

پوهیالی لیلما « یما »

17

شرح منظومهء عروج و نزول اسلام

ندا، تنبیه و هوشدار به مسلمین جهان

شاعر از بند (٦٦-٧٤) یکبار دیگر به مسلمانان هوشدار میدهد و با تأکید بیش از حد ابراز میدارد که اي مسلمانان، اي کساني که دلتان براي اسلام میتپد از بهر خدا با هم اتحاد و اتفاق کنید و چند دسته گي و تنبلي و سستي را کنار بگذارید و با تبلیغ حقیقت اسلام ، مسلمانان را دور هم دو باره جمع کنید و مطابق شریعت نبوي که از عدل و انصاف و برادري و احترام به حقوق انسان علم دوستي و فرهنگپري و پیشرفت و ترقي صحبت میکند ، عمل کنید تا عظمت گمشده، خود را دریابید ورنه شما تنگ بشریت شده و از صفحه، روزگار (از دایره، سیاست، فرهنگ ، علم و تمدن) محو خواهید شد.

خطاب به مسلمین جهان

بند ٦٦:

اي محبان مسلماني کمي همت کنید — اي شریعت دوستان در کار دین غیرت کنید
از ره، اخلاص با هم الفت و اخوت کنید — ترك عیش و تنبلي و سستي و غفلت کنید
نیست در آفاق تعداد شما کم از کسي — بلکه از سه صد کرور افزونترید کنون بسي

شرح: شاعر در این بند به مسلماناني که عاشق اسلام هستند خطاب نموده میگوید : اي کساني که خود را اخلاص مند اسلام ، علاقمند شریعت، دوستان راستین در کار دین و دینداري میدانید، کمي همت و غیرت به خرج دهید و از روي اخلاص و محبت با هم دوستي و برادري کنید و عیاشي و تنبلي و سستي و غفلت را کنار بگذارید و در ترقي و پیشرفت جهان اسلام با هم متحد شوید، زیرا تعداد شما مسلمانها در جهان کم نیست و حتي شمار شما بیشتر از سه صد کرور (بیش از یکصدو پنجاه ملیون) میباشد بناءً با این کمیت بزرگ اگر شما همت و غیرت کنید میتوانید به نفع تمامي مسلمانان و جهان اسلام کار هاي مفید و ثمر بخش که باعث سر افرازي اسلام میشود انجام دهید.

چون این کتاب در حدود شصت سال پیش (١٣١٩ هـ ش) از امروز سروده شده بناءً شاعر تعداد مجموعي مسلمانان را در همان زمان بیان نموده است .

مسلمانان ، عهد تازه کنید!

بند ٦٧ :

باز اگر چون در اول همت محکم کنید — عزم جزم و اتحاد و نیت مبرم کنید
جملگي اسلام عهد تازه، باهم کنید — استقامت را به عزم راسخ خود ضم کنید
بر مراد دل رسید اي دوستان بي گفتگو — همت مردانه آب رفته باز آرد به جو

شرح: شاعر در این بند گره کار مسلمانان را میگشاید و برایشان راه حل نشان میدهد و واضح میدارد که اگر مسلمانان مانند ازمنه هاي قبل (زماني که مسلمانان امپراتوري داشتند) از روي عزم و اراده و همت محکم دور هم بیایند، قاطعانه عزم ببندند و نیت نمایند که با هم اتحاد مینمایند و تمامي مسلمانان در این راه، تعهدات خویش را تازه کنند بدون شك دو باره به مراد و مقصد دل خویش که همانا پیروزي جهان اسلام است میرسند چرا که همت و غیرت مردانه آب رفته را به جوي باز میگرداند یعني عظمت دیرین مسلمانان را احیا میکند .

اینهمه تاکیدات الحاج خلیل در مورد اتحاد و اتفاق بر این است که مسلمانان نباید دیگر حالت انفعالي داشته باشند بلکه باید فعالانه عمل نمایند و قدرت و توانایي نخستین خویش را احیا کنند . صحبت از اتحاد و اتفاق حکایه معروف آن پیر مرد کار آزموده را به خاطر می آورد که در اخیر عمر پسرانش را جمع نموده به آنها یك بسته چوبهاي نازك را داد تا آن را بشکنند هیچ یك از پسرانش موفق به شکستاندن بسته، چوب نگردیدند پیر مرد کار آزموده بسته چوب از نزد پسرانش گرفته باز کرد و هر دانه، چوب را به صورت جداگانه شکستاند بعد رو به پسرانش نموده گفت : اگر شما مانند بسته چوب با هم متفق باشید هیچ کس نمیتواند شما را شکست بدهد واما اگر با هم اتحاد نداشته و در فکر همدیگر نباشید دشمن مانند دانه هاي چوب شما را از پا در مي آورد .

زوال فعلي مسلمین نیز از نفاق و بي اتفاقي شان است اگر مسلمانان با هم متفق شوند هیچ نیرو به خدا آنها را شکست داده نمیتواند .

وارثان انبیا، به مسلمانان رهروی را بیاموزید!

اي محبان علي التحقیق شرع مصطفي — حامیان جانفداي صادق دین هدي
اي سروسرکردگان وي اهل عرفان وذکا — اي مصابیح الظلم وي وارثان انبیا ،
مثل (پیرارمیت) و همچون (پاپهاي) عیسوي — قوم خود را بیاموزید طرز رهروي

شرح: اي کساني که دوستدار تحقیق و مطالعه اندر باب شریعت حضرت پیامبر اسلام هستید و طرفداران و فدا کاران صادق دین هدایت میباشد و اي مسلمانان که سرو سرکردگان هستید و اهل عرفان ذکاوت میباشید و به مثابه، چراغي هستید که تاریکي ها را میزدایید و فضاي تیره و تار را روشنایي مي بخشید و وارثان پیامبرانید مانند پیرارمیت و پاپهاي عیسوي که عیسویان را در جنگهاي صلیبي متحد و متفق ساختند و در یك جبهه جمع نمودند، شما هم مسلمانان را به اثر تبلیغ هاي نیکوي خویش متحد سازید و به آنها راه و روش رهروي را بیاموزید و ایشان را وادار سازید که در جهت پخش و نشر اسلام متحدانه عمل نمایند.

قسمي که الحاج خلیل در بند بالا ذکر نموده است علما و دانشمندان وارثان پیامبران هستند و وظیفه این قشر، عظیم تر و سنگین تر نسبت به افراد دیگر است، وظیفه، آنهاست که انسانها را به راه راست و درست رهنمایي و رهبري کنند. عالم و دانشمندي که براي انسانها رهروي را نمي آموزند و راه را نشان نمیدهند عالم و دانشمند حقیقي به شمار نمیروند. به همین لحاظ است که شاعر در این بند عنواني علما و دانشمندان ندا سر میدهد تا مسلمانان را متحد بگردانند. همانند پیرار میت و پاپهاي عیسوي که عیسویان را در جنگهاي صلیبي متحد گردانیدند .

البته باید اضافه کرد که سازماندهي پیرار میت و پاپهاي عیسوي در راه اندازي جنگهاي صلیبي یك سازماندهي منفي و عقده یی و دور از تعقل و تفکر بود که البته سازماندهي مسلمانان در اتحاد و اتفاق شان علیه استعمار با سازماندهي صلیبي ها کاملاً تفاوت دارد.

ادامه دارد

راغلي لیک

دکـــــــابل ښاروالی دپام ور

دشریعت اوونیزی اداری محترمو کار کوونکو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

دلوی خدای نه مو په خپلو ورځنیو چارو کی لا بریالیتوب غواړو . داچی ورځپانی اوجریدی دټولنی په منځ کی دتفاهم اوپویل په ستونزو دخبریدو ښه ذریعه ده نو زه هم غواړم دکابل ښاروالی دیو ملکیت په هکله خپل مشاهدات ولیکم ، دکابل ښاروالی دغه ملکیت چی زه یی یادوم زما دتلو راتلو په لار کی دشوروی سفارت ته مخامخ موقعیت لری چی خورا ښه ویره ساحه اویوشمیر ونی هم پکی ولاړی دی . خوداچی کابل ټول یو جګړه ځپلی ښار دی اوهره برخه یی په خپل وار دتیرو نا خوالو یو ډول کیسه کوی ، دغه پارک هم په ډیره سپیره خوله شکایتونه کوی دا ځکه چی که له یوی خوا پارک ته اوبه نه رسیږی او ونی بوتی یی په وچیدو دی چی یو شمیر خلک یی په وهلو اوما تولو هم اخته دی ، له بلی خوا ورو - ورو په هدیره بدلیږی اودسیمی شاوخوا اوسیدونکی زیاتره وخت خپل مړی په همدی پارک کی دفن کوی حال داچی نو موړی ځای قطعاً دهدیری لپاره مناسب نه دی نوکه دښاروالی مسئولین دی لورته خپل پام را واړوی ، چا ته یی دکرنی لپاره په اجاره ورکړی اویا بل څه پروګرام ورته جوړ کړی . ډیره ښه وی . نور مو په لوی خدای سپارم .

والسلام علیکم

ستاسو ورور

«غمخور» له ایوب خان مینی

محترمه وروره ښاغلی «غمخور» صاحب !

دادی ستاسو را لیږلی لیک مو کټ مټ خپور کړ خدای «ج» دی وکړی چی دکابل ښاروالی چارواکو دپام وړ وګرځی .

«دشریعت اوونیزی اداره »

په هند کې ...

د هند د دفاع وزیر له بهرنیو خبریالانو سره د مرکی په ترڅ کی څرګنده کړه چی وروستی زلزلی زیات مالی تاوانونه هم اړولی دی او د ګجرات ایالت د بوج ښار چی د زلزلی مرکز پکی تثبیت شویدی په بشپړه توګه ویجاړ شویدی

پداسی حال کی چی په هند کی له سختی زلزلی څخه پنځه ورځی تیری شویدی د ژغورنی کار کوونکی وایی باور نلری چی له دی وروسته ژوندی کسان له کنډوالو څخه ویاسی.

د هندی مامورینو د څرګندونو له مخی ددغی پیښی پاتی کسان په اوس وخت کی د څښاک روغتیایی اوبو ، خوراکی موادو او شړیو ته سخته اړتیا لری. ځینو هیوادونو او مرستندویو سازمانونو د هند له مصیبت ځپلو خلکو سره مرستی کړیدی. د پاکستان اسلامی جمهوریت د مرستی د موادو بار یوه الوتکه د هند د ګجرات ایالت مصیبت ځپلو خلکو ته لیږلی ده او په پام کی لری چی په راتلونکو دوو ورځو کی د ګجرات ایالت ته زیاتی مرستی ولیږی . نړیوال بانک او یونسف هم له هندی مصیبت ځپلو سره د زیاتو مرستو ژمنه کړیده .

د ننګرهار د ...

قوماندانی موظفینو په دی وروستیو وختو کی ١٤ تنه جوارګر چی ددغه ولایت په مربوطاتو کی د قمار په ناروا عمل بوخت وو او دغه راز هغه دوه تنه غله چی ددغه ولایت له یو تن صراف څخه یی ٩٥ لکه افغانی غلا کړی وی ونیول او دغه قضیی ترجدی څیړنی لاندی دی.

د یو بل خبر له مخی هغو دوو تنو چی د طالبانو له نامه څخه په استفادی سره یی د ننګرهار ولایت په مربوطاتو کی د خلکو په ځورولو لاس پوری کاوه په دی وروستیو وختو کی ددغه ولایت د امنیه قوماندانی د موظفینو لخوا ونیول شول.

په هرات کې ...

شمال لویدیځ زون د تنظیمه ریاست د مرستی د لسو زرو لکو افغانیو په ارزښت د سون مواد په یو شمیر هغو مهاجرو کورنیو باندی وویشل چی د هرات په ولایت کی ژوند کوی.

په دغه ولایت کی په مهاجرو کورنیو باندی د سون د موادو د ویش لړی دوام لری .

د لوړو زده کړو ...

د دوه زره یو میلادی کال د مارچ د میاشتی له نهمی نیتی سره سمون خوری ازمونیه اخستل کیږی او له هغو قبایلی طالب العلمانو څخه چی له پولی څخه بهر کالجونو څخه فـــــارغ وی او د اف . اس . سی سندونه ولری د روان هجری قمری کال د ذوالحجة الحرام د میاشتی په ٢٩ نیټه د شنبی په ورځ چی د دوه زره یو میلادی کال د مارچ د میاشتی له ٢٣مي نیټی او د ١٣٨٠ هجری لمریز کال د وری یا د حمل د میاشتی له دریمی نیټی سره سمون خوری امتحان اخیستل کیږی.

دغه طالب العلمان دی خپل سندونه د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو او د سرحدونو د چارو د وزارتونو له لاری د قانونی پړاوونو له تیرولو وروسته ډیر ژر د کابل ښار په څلورمه کارته کی د لوړو زده کړو وزارت د محصلانو د چارو ریاست ته وسپاری.

د وړا خیریه ...

اسلامی امارت د پوهنتونونو انستیتوتونو او د فرهنګی مرکزونو د تحصیلی پروګرامونو په اړوند ددغی موسسی رئیس ته معلومات ورکړل د علمی تجهیزاتو او تحصیلی وسایلو د پوره کولو د علمی کدرونو د کمښت د له منځه وړلو او د ودانیو د بیا جوړولو په برخه کی ددغی موسسی د همکاری غوښتنه وکړه . په مقابل کی ددغی موسسی رئیس د نورو خیریه موسسو د مرستو د جلبولو په لاره کی ددغی موسسی هر اړخیزه همکاری څرګنده کړه .

وزارت دفاع ...

اردوي آنکشور قدرت را در دست خواهد گرفت .

منابع وزارت دفاع اندونیزیا گفتند که در حال حاضر تحقق این امر عملي نبوده ولي اگر ضرورت ایجاب کند براي جلوگیري از هرج و مرج و یا فروپاشي کشور اردوي آنکشور در موضوع مداخله خواهد کرد.

در حال حاضر عبدالرحمن وحید به ارتکاب دو مورد رشوه خوري متهم شده است مامورین پولیس اندونیزیا دیروز براي جلوگیري از ورود محصلین معترض به عمارت پارلمان آنکشور از گاز اشك آور استفاده نمود.

این در حالیست که عبدالرحمٰن وحید یك بار دیگر اعلان کرد که او از مقامش استعفا نخواهد کرد

د اسراء موسی ...

په هغې غونډه کې چې له همدې امله جوړه شوې وه د ختیځ زون د تنظیمه ریاست مرستیال او د ننګرهار ولایت مرستیال محترم مولوي صدراعظم د اسراء موسسې رئیس محترم شیخ عمر او ددغې موسسې د نړیوالې او روزنې د برخې مسوول محترم احمدضیا حبیب یار په وار سره د اسلام د مبین دین له پلوه د علم او پوهې د زده کړې د ارزښت او د قرآن عظیم الشان د حفظ او تلاوت د فضیلت په باره کې خبرې وکړې او د بیلا بیلو ځانګو د طالب العلمانو او حافظانو راتلونکې مسؤلیتونه یې جوت کړل. په پای کې د اسراء موسسې د مدرسو د قرآن عظیم الشان د نهو تنو حافظانو د فضیلت پګړې د چارواکو لخوا وتړل شوې او دغه راز د ترکاڼۍ ولډنګ کارۍ او د موټر انجن د ترمیم د ځانګو د ٤١ تنو فارغانو د فراغت سندونه هم وویشل شول.

در فاریاب ...

اخروي احتکار مواد از نقش ارزنده و مهم تجار ملی در قسمت خدمت به هموطنان و رفع مشکلات اقتصادي در کشور یاد آور گردیده و از آنها خواست تا با در نظر داشت مشکلات اقتصادي هموطنان در قسمت تورید مواد اولیه بذل توجه نموده و مسئولیت وجداني شانرا ادا نمایند.

در ختم جلسه تجار ملی ولایت فاریاب آماده گي شانرا در قسمت تورید مواد اولیه و خدمت به هموطنان ابراز داشتند.

ریزش برف...

روبرو شده اند.

مطبوعات چین گزارش میدهد که از اثر سردي بیش از حد هوا در مناطق شمالي چین اخیراً سیزده نفر هلاك شده اند.

در بروکسل...

یافتن راه هاي حل براي مبارزه با بحران جنون گاوي بدون نتیجه بي اختتام یافت . به علت شیوع مرض جنون گاوي در برخي از کشور هاي اروپایي صادرات گوشت گاو اتحادیه اروپا را اکثر کشور ها تحریم نموده که به این ترتیب با شصت فیصد کاهش روبرو شده است .

دیکتاتور ...

که پنوشه بخاطر جنایاتي که در جریان اقتدارش مرتکب شده است محاکمه خواهد شد.

قاضي مذکور علاوه نمود که در اوایل دیکتاتوري پنوشه بیش از هفتاد نفر از مخالفین آنکشور نا پدید شده و به قتل رسیده اند.

اقارب و بازمانده گان کساني که در جریان زمامداري پنوشه به قتل رسیده اند از تحویل پنوشه به محکمه ابراز خرسندي و استقبال نموده اند.

د هیواد څرو...

دیرشو قلمو درملو د تولید اجازه تر لاسه کړیده اوس شپږ ویشت قلمه درمل چی ډول ډول شربتونه قطره چکان ، مقطری اوبه او دیارلس قلمه انتی سپتیک محلولات دی له هغو اومو موادو څخه په استفادی سره چی د چین له ولسی جمهوریت څخه یی وارد کړیدی تولیدوی او په پام کی دی چی په راتلونکی کی په سیروم ، تابلیت، کپسول، او پوماد سربیره له موسمی اړتیا سره سم او د بازار په غوښتنه ډول ډول درمل تولید کړی.

دغه فابریکه په خپل یو شفتی فعالیت سره په یوه شپه او ورځ کی ټول څلور زره بوتله درمل تولیدوی او د فابریکی د لابراتوار او د فارمسی د چارو د ریاست د لابراتوار لخوا له تحلیل او تجزیی وروسته د هیواد والو په واک کی ورکوی.

په هغو مراسمو کی چی له همدی امله د عامی روغتیا وزارت د مسلکی معین محترم مولوی عصمت الله عاصم د خصوصی پانګی اچونی د هڅونی او پرمختیا د مرکزی اداری د لوی رئیس محترم مولوی شجاع الدین خدام د فارمسی د چارو د لوی ریاست د سرپرست محترم حبیب الله منګل او د عامی روغتیا وزارت د یو شمیر چارواکو او ددغی فابریکی د منسوبینو په ګډون په ځای شوی و د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو ایتونو له لوستل کیدو وروسته دغه فابریکه د عامی روغتیا وزارت د مسلکی معین محترم مولوی عصمت الله عاصم لخوا د پتی په پریکولو سره پرانستل شوه

محترم عاصم هیواد او خلکو ته د خدمت په لاره کی ددغه شان تولیدی فابریکو جوړیدل او فعالیت ارزښتناک وباله او ددغی فابریکی د بیلا بیلو برخو د کتنی په ترڅ کی یی د لوی خدای «ج» له دربار څخه ددغی فابریکی د چارواکو او منسوبینو د لازیاتو **بریالیتوبونو هیله وکړه**

د بریښنا هغه تولیدي فابریکي ...

رسول شوي دي چي لله الحمد په دغو سیمو کي اوس دبریښنا بهیر تامین شوي دي .

دي زیاتوي : له ترکمنستان څخه توریدي بریښنا اوس په اندخوي او تورغونډي کي ددغو سیمو خلکوته زیاتي اسانتیاوي رامنځته کړي دي موږ په پام کي لرو چي دغه بریښنا ډیر ژر دجوزجان ، بلخ او دهرات ولایتونو ته هم ورسوو .

ده زیاته کړه : زموږ داوبو لګولو سیستم هم دتیرو ٢٠ کلونو په ترڅ کي دجګړو له وجي ډیر زیان مونډلي دي . ددغه سیستم دبیارغوني په هکله موږ په زیاترو ولایتونو کي دڅومره کارونه کړي چي همدا اوس دقرغي دبند پاکول جریان لري ددغه بند په پاکولو اوبیا احیا ، کولو سره ١٤ ملیونه مکعب متره اوبه په دغه بند کي ذخیره او لس زره جریبه ځمکي لپاره اوبه برابریږي . دغه راز پولږ کانالونه او ویالي هم پاکي شوي چي شمیر یې ٢٥٠ ته رسیږي .

دي زیاتوي : هغه تولیدي فابریکي چي په اوبو فعالیت کوي ٩٨ ٪ فعالي شوي دي که چیري دارتیا ور اوبه ولرو نو فابریکي خپل اعظمي ظرفیت تولیدولای شي او توزیعي شبکو هم تر یوخوا پراختیا موندلي ځکه که په کابل ښار کي موږ ٧٠٪ شبکي بشپړي کړي نو په کندهار ،ننګرهار ، اندخوي ، خوست او داسي نورو سیمو کي دتیرو کلونو په پرتله زیات پرمختګ شوي دي . دبادوني ور ده چي دترکمنستان توریدي بریښنا زموږ شبکو ته لا زیاته پراختیا ورکړي . په ځینو ولایتونو کي چي داوبو بریښنا نشته هلته ډیزل جنراتورونه نصب شوي او اوس دلوګر ، پکتیا ، خوست ، غزني ،زابل ، ارزګان ، لغمان ، فاریاب ، سرپل او تخار په ولایتونو کي زموږ واحدونه فعال او عملا دجنراتور له بریښنا څخه دښارونو اهمو ځایو ته بریښنا رسیدلي ده .

ده زیاته کړه : موږ دتولید له پلوه تخنیکي ستونزي نه لرو که څه هم چي فابریکې ډېرې زړې شوې دي خو بیا هم دمجربو او مخلصو انجنیرانو او کارګرانو له خوا په جدي توګه کنټرول او څارل کیږي جاري او عادي ترمیمات یې په منظم ډول او ټاکلي وخت ترسره کیږي خو داوبو کمښت یوه جدي او عمومي ستونزه ده چې د آبیاري او بریښنا په چارو یې ناوړه اغیزه ښندلي دي سږکال برسیره پر دي چي باران او واوره ډیره کمه وه داوبو بهیر په رودونو کي ډیر لږ او خو موږ داوبو زیرمو ته په انتظام نیولي دي . دنغلو او کجکي داوبو دزیرمو نه په ډیر محتاطانه ډول استفاده کیږي چي یقیناً دسرویي ،او درونتي د آبیاري دیرخو خیال هم ساتل کیږي چې په دي توګه دکابل ښار ته په منځني ډول ٦٢ میګاواټ ساعته ، کندهار ته ١٨ میګاواټ ساعته ، په غوري فابریکه کي ٦ میګاواټ ساعته او په درونته کي نږدي ٩ میګاواټ ساعته بریښنا تولید اوشبکوته توزیع کیږي

دبادوني ور ده چي دکابل په ښار کي تر اوسه پوري ٨٥ زره کورنیو ته بریښنا رسیدلي ده .

نوموړي زیاته کړه : ټولو هیوادوالو ته جوته ده چي داسلامي امارت له تاسیس څخه مخکي په کابل اوډیرو نورو ښارونوکي بریښنا نه وه . دبریښنا ټول تاسیسات یا له منځه تللي او یا خو سخت زیانمن شوي و خو اوس لله الحمد داسلامي امارت داقتصادي توان په نظر کي نیولو سره دبیا رغوني پلانونه په منظم ډول سمبال شوي دي . اوپرمخ ځي چي درانه هیوادوال بي په سر سترګو ګوري او اوري چي موږ هره اووني دبریښنا دپراختیا په برخه کي نوي پرمختګونه کوو .

ده وویل : په کابل ښار کي ٦ سب سټیشنونه وو چي اوس بي دري مکمل فعال شوي دي او ختیځ سب سټیشن به په نږدي راتلونکي کي ګټي اخیستو ته وسپارل شي . همدارنګه په پام کي لرو چي د بریښنا کوټ او پښتاک په سب سټیشنونو باندي هم کار پیل کړو .

په پای کي داوبو او بریښنا وزارت محترم معین داسي وویل : موږ تل هڅه کړي چي دبیا رغوني پلانونه ډیر ګړندي پرمخ بوځو خو زموږ هیواد جګړو سخت ځپلي دي او له دي امله مو اقتصادي سیستم ته درانه زیانونه اوښتي له دي وجي خامخا له بوځه مالي ستونزو سره مخامخ یو او همدا سبب دي چي دخپلو چارو دپرمختګ په لار کي له خنډونو سره مخامخ یو خو بیاهم دتیرو کلونو په اندول دپراختیا پروګرام په منظم ډول تر لاس لاندي دي او انشاء الله دښارونو پاتي برخو ته به هم ورو - ورو بریښنا ورسیږي .

زموږ عوايد دبریښنا له تولید او مالي پلان سره تړاو لري خو داستولو له مخې داوبو له کمښت سره سره موږ په خپلو چارو ، پلانونو او پروګرامونو کې بریالي یو .

مرکه کوونکی حمیدالله

«عالمي»

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: **Abdurrahim "Saqeb"**
Editor: **Ghulam M. Farooq**
Printed by: Emirate's Printing Press

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150